سرلوڅ مرادزی



# د عبدالله د خونړی ډلې تازه فجایع

د جون په ۲۷ مه د ډبل عبدالله ډلې، افغانستان کې د ۱۳۹۳ کال دټولټاکنو د پایلو د نه منلو په اړه، مخکې له مخکې کابل کې لاریون وکړ. دوی په دې لاریون کې تر هر څه مخکې ګډوډی جوړه کړه او عامه نظم یي ویجاړکړ. روسته یي ولسي وګړي ووهل او د ټاکنو کمیسیونو او دولتمشر کرزي ته یي په سپکو سپورو او کنځلو سربیره کابلیان لوټ کړل او تالان یی ګډ کړ. خو له دې ټولو سره سره یی یو بل لوی او ستر فرهنګي او ملي جنایت  هم ترسره کړ!

دوی لومړی د لاریون په اعلانونو کې د پښتونستان واټ له نوم سره کرکه وښوده او دا واټ یي د پښتونستان پرځای د ( فواره آب) په نوم یاد کړ. روسته یي د پښتونستان واټ لیکدړه ( لوحه ) له خپل ځایه راوییستله، ترپښو لاندې یی کړه، هغه یي ماته کړه او بیایي وړاندې وغورځوله!

باید ددې یادونه وکړو چې د پښتونستان واټ او په دې نوم لیکدړه، له تیرو ۶۰ کلونو راهیسې شتون لري او په ټولو حالاتو کې دا لیکدړه ولاړه ده. د پښتونستان واټ نوم په حقیقت کې د لروبرو افغانانو د پیوستون او یووالي یوه نښه او سمبول دی.

نظارشورا په دې جنایت او ملي خیانت، نه یوازې د پاکستان د ای ایس ای پخواني مشر جنرال حمیدګل  او د هغه هیواد پوځیان خوشحاله کړل، بلکې پنجاب ته یی شین څراغ وځلاوه، که چیری ډبل عبدالله په ټاکنو کې بریالی شي، د هغه هیواد د خوښی لپاره به ډېر داسې نور څه ترسره کړي.

عبدالله لا مخکې د ټولټاکنو په کمپاین کې د پنجاب د ملاتړ او پیرزوینې په موخه، هغه هیواد ته د ډیورنډ د تپلې اواستعماري کرښې د منلو سیګنالونه ورکړي وو.

څه مهال وړاندې، د پاکستان د ای ایس ای پخواني مشر جنرال حمیدګل خپل استوګنځي لاهور کې د فرانس پریس خبري اژانس سره یوه مرکه کې ویلي وو« افغانستان کې سولې ته یو جنګیالی پکار دی نه یو اکاډیمیک او علمی شخصیت. عبدالله په جګړو کې برخه اخیستې او د طالبانو پرضد یې مقاومت کړی، بلخوا یې له طالبانو سره د خبرو لپاره سخت شرطونه ایښی، همداراز عبدالله د شمال د تاجکانو له ملاتړه برخمن دی خو د ده برعکس اشرف غنی د اکثریت افغانانو او طالبانو په شان په خټه پښتون دی. ده د بلې پوښتنې په ځواب کې ویلي وو: که هدف سوله وی او باید هم وی، نو په افغانستان کې د سولې لپاره عبدالله خورا زیات امتیازونه لری. د عبدالله ملګری هم جنګیالی دی او هغه بیا خپل لومړی مرستیال محمد خان او محمد محقق ته اشاره وکړه. تاند»

پورته څرګندونې ښی، په سیمه کې د افغانستان د هر سیال او حریف هیواد په پرتله، پنجاب نه یوازې د افغانانو د ملي ګټو او ارزښتونو د لوټ لپاره د عبدالله خونړۍ ډلې ته سترګې نیولي، بلکې پنجاب ددې ډلې په زیرون، پیاوړتیا او ترینګ کې د مرستې په بدل کې، خپل پوراو دین ګڼي چې راتلونکې کې به دا ډله د پنجاب پر محور لوبیږي!.

په دې لامل هم په ټاکنو کې د ډبل عبدالله بریالیتوب لکه څنګه چې جنرال حمیدګل یې  په مرکه کې ښېګڼې بیانوي، د افغانستان په اړه د پاکستان په بهرنۍ پالیسې کې ځانګړی ځای لري او هغې ته یي له هرخوا سترګې نیولې دي.

د ټاکنو په درشل کې په کونړ ولایت توغندیز بریدونه، په نورستان او غزني کې د مخپټو ترهګرو ظهور او راوروسته په هلمند کې پر ولسونو او دولتي بنسټونو او امنیتي اورګانونو برید لکه په ۱۹۸۹ کال پر جلال اباد جبهه یز یرغل، هیڅکله یوله بله جلا پېښې نه دي!

پر یوه وخت پرهلمند د پنجاب روستی یرغل  او د ټاکنو د پایلو په اړه د عبدالله ډلې غوبل، دواړه د یوې توطیي بېلا بېل مخونه دي.

پنجاب، پر افغان خاوره د افغانانو د ملي واکمنۍ  د مخنیوي، د پاکستان په دننه د پښتنو د ملي غورځنګ د ځپلو او په سیمه یزه پالیسو او سیاسي لوبو کې د ډیورنډ د تپلې کرښې په بره غاړه، د عبدالله ډلې ته د یوې کارنده وسلې پتوګه ګوري.

د عبدالله ډله هم چې په کور دننه ملي او ولسي ملاتړ نلري او افغانانو په تېره بیا په روستیو ټاکنو کې د تل پشان هغې ته شا واړوله او هغه یي رد کړه، د افغانستان په سیاستونو کې د واک او ځواک لپاره، د پاکستان او ایران لورنو او پیرزوینو ته سترګې نیولي دي!

د عبدالله د خونړۍ او ویجاړګرې ډلې په وړاندې د کابلیانو ننني غبرګون هم د کلک پاموړ دی. کابلیان چې په ۹۰ لسیزه کې یې ددې خونړۍ ډلې د واک د انحصار په جګړو کې ۷۰ زره اوسیدونکي له لاسه ورکړی او کابل ښار یې لوټ کړی او وران کړی، له افغان دولت غواړي چې بیا د کابلیانو له وژلو او د کابلښار له ویجاړۍ څخه ددې خونړۍ ډلې د لاسونو په لنډولو کې وخت له لاسه ورنه کړي!

دولت د هر ډول ګډوډۍ د مخنیوي او د عامه نظم د ساتنې مسئول دی!

دولت په ټاکنو کې د افغانانو د کارشویو رڼو رایو پر بنسټ، د واک سوله یز لیږد، دنده پرغاړه لري!

د ۲۰۱۴ کال د جون ۲۷ مه